# افغانستان آزاد – آزاد افغانستان

AA-AA

چو کشور نباشد تن من مبــــاد     بدین بوم و بر زنده یک تن مــــباد
همه سر به سر تن به کشتن دهیم     از آن به که کشور به دشمن دهیم

afgazad@gmail.com     www.afgazad.com

| مسایل ایدولوژیک | Ideological |
| --- | --- |



محمد هارون خپل شعشعي


۰۵ اکتبر ۲۰۱۱

## د
## علي محمد مُخلِص
## عرفاني فرهنګ
## د
## محمد هارون خپل شعشعي
## ليکنه او څېړنه
## ۱۳

### ۲۶- تلوين او تمکين:

تلوين، په لُغت کي رنګ په رنګ کولو؛ او د کلام اړولو ته وايي[۱] . تمکين ، له لغوي اړخه د ځواکمن کولو، واک ورکولو او منلو په ماناوو راغلئ دئ[۲] . د اتمي هجري پېړۍ نامتو عارف - خواجه ضياٴالدين نخشبي (په ۷۵۱ هـ ق کي، د هندوستان په بدايون کي مړ) په خپل عرفاني اثر «سلک السلوک» کي سالک تر هغه مهاله پوري د تلوين څښتن بولي، چي د عرفاني مقامو په تېرولو بوخت يي (وي)؛ خو کله چي د عرفاني طريقت ټول مقامونه په بري سره پاي ته ورسيي؛ او د مقصود منزل ته ورسېږي، هغه وخت نود تمکين څښتن باله سي[۳] .» دده په عقيده، د تمکين سترخان، د هغه چا روزي دئ، چي سليم زړه ولري . خواجه نخشبي، وروسته د سليم زړه د خاوند په اړه د شرک، نفاق، دوښمنی ، تمي او داسي نورو په څېر، هغو شلو سَلْبي خويو او صفتو يادونه کيي، چي د سليم زړه بايد له هغو څخه پاک او ژغورلئ يي . بيا د توحيد، اخلاص، زُهد، قناعت او داسي نورو په شان، هغو نورو شلو ايجابي خصلتو بيان راوړي، چي تل بايد د سليم زړه نه بېلېدونکي برخه يي[۴].

علي محمد مخلص، په خپل عرفاني ديوان کي تلوين، تمکين او مسکين د درو نه بېلېدونکو عرفاني پړاو يا مرتبو په توګه ياد کړي دي . دده په اند هم، تلوين په عرفاني سلوک کي، د نا پوخوالي او بې باورۍ پړاو دئ؛ خو د تمکين پر مقام، د سالک له زړه څخه، د شک او ګومان پردې ليري کيږي؛ او د يقين په نور يي سترګي رنيږي . له خواجه نخشبي سره، زموږ د کره کتونکي عارف، علي محمد مخلص، د نظر توپير په دې کي دئ،

چي د ده د وينا له مخې، د عرفاني سيراو سلوک مقامونه يا منزلونه دلته نه ختميږي . د جسمي عبادت درونډ بار، ټل ترټله د تمکين له ښبتنه سره ملګری يي .

مخلص، د روښاني طريقت د أصُولو پر بنسټ، سکونت دعرفاني مجاهدو معراج ګڼي . لکه څنګه، چي د سکونت په بحث کي يادونه سوې ده، سالک د عرفاني سلوک په دې لوړ مقام کي، د باران د څاڅکو په څېر، د وحدت له ناپايه سمندر سره يوځای کيږي؛ او د خپلي هست نُما نيستی په ايسته کولو سره، دالهي ذات د نيست نُما هستی، نه جلا کېدونکي برخه ګرزي؛ هر څه د وحدت په سترګو ګوري؛ او همېشه هوري سکونت مومي . د پير روښان په تصوفي او عرفاني دونيا کي، تر مسکين لوړ مقام نسته . مخلص، د خپل عرفاني پير ( بايزيد روښان) له نظريو سره سم، د تلوين، تمکين اومسکين د مقامو ځانګړتياوي اوارېکي داسي پر تله کيي :

که نن ورشي د يقين تر سرزمينه
عبادت به دي پوره شي له يقينه
د يقين ښبتن هغه دئ په جهان کښي
چي يي مرتبه حاصله شي تمکينه
د تلوين اهل دئ لري له باوره
د تمکين ښبتن تېرسوئ له تلوينه
د تمکين ښبتن طاعت که په تصديعه
د طاعت تکليف ساقط شي له مسکينه
په صورت که عبادت، روح يي آزاد دئ
د مسکين روح په خدايي صفت متينه

د نور مالومات دپاره وګورئ : وحدت الوجود او وحدت الشهود، د وحدت او کثرت عالَم، سکونت ، **هستي او نېستي ، فنا او بقاً ، نفي او اثبات**، جمع او جمع الجمع .

لمنليکونه

١ عميد ١: ٧٢٣ .
٢عميد ١: ٧٢٨ .
٣ نخشبی ١۵.
۴ نخشبی ١۵.

**٢٧- تَناسُخ :**

تَناسُخ (د «ت» په زْوَر او د «س» په پېښ)، په لُغت کي نسخ کولو ، باطلولو يا له منځه وړلو ته وايي؛ خو په فلسفه او حِکمت کي له يوه وجود څخه بل وجود ته د اروا ننوتلو په مانا استعماليږي . تَناسُخيه ډله، چي له يوه وجود څخه بل وجود ته د اروايرلېږدېدو باور لري؛ او د انسانانو د بيا ژوندي کېدو مخالف دي، د خپلو دلايلو په لړ کي وايي، چي د نېک انسان اروا تر مړيني وروسته ، د پوه او هوښيار کس و بدن ته ننوزي تر څو په ژوند کي خوښ او خوشاله اوسي . ددې پر خلاف، د بد کاره شخص روح ، د هغه حيوان جسم ته ننوزي، چي ګرده عُمر د بارو په وړلو سره ربړ او تکليف ګالي . د دې ډلي د پيروانو په باور، له يوه وجود څخه بل وجود ته د

اروا لېږدېدل تر هغه مهاله تکراریږي، چي په پای کي له هره شره پاک او سپېڅلئ سي؛ او بیا ګونا و نه کړي .
ځینو اسلامي فیلسوفانو اوحکیمانو، د انسان بدن ته د اروا لېږدېدل د «نسخ» په نامه ؛ د حیوان وجود ته یې د اروا ننوتل د «مسخ» په نامه ؛ د حشراتو جسمو ته یې د هغې ننوتل د «فسخ» په نامه او په پای کي یې د بوټو او ونو و وجود ته د اروا بیا ننوتل د «رسخ» په نامه یاد کړي دي[1] . د تَناسُخ فلسفي نظریه، په هندویزم او ځینو نورو هندو ټبره مذهبو کي خورا پراخي او ژوري ریښي لري . د لته یې له اسلامي عرفان څخه د لیري والي په سَوَب (سبب) د جزییاتو او بېلابیلو اړخو په باب خبري نه اوړدوو.

د تَناسُخ د فلسفي پلویانو د «نسخ» او«مسخ » په اړه د صعودي او نزولي تګلورو یادونه هم کړې ده . د دوی په عقیده ، د «نسخ » صعودي تګلوری دې ته وایي، چي نَفَس یو وجود پرېږدي؛ او ترخپل لومړني وجود و یوه لوړ صورت ته ارتقاء یا پر مختګ وکړي؛ د مثال په توګه لومړني نَفَس د عناصرو صورت درلود ، هغه یې پرېښود؛ او د نبات صورت یې واخیست . وروسته یې نبات پرېښود، د حیوان بنه یې خپله کړه ؛ بیا یې د حیوان وجود پرېښود؛ او د انسان بنه یې غوره کړه . د خپل پرمختګ په یوه بل پړاو کي یې د انسان وجود پرېښود؛ او د پرښتي صورت یې اختیار کړ. «مسخ» د «نسخ» ضد دئ . هغه په دې مانا، چي یوه سا یا نَفَس خپل پخوانی حالت پرېږدي؛ او تر هغه کښته صورت یا حالت ته ټیټیږي؛ مثلاً که یوه سا په انساني مرتبه کي کمال ترلاسه نه کړي، نو هغه د ژوو په څېر ژوند کیي( کوي)؛ د حیواناتو په صفتو، موصوف سي؛ او ډېري ګوناوي وکړي[2] .

علي محمد مخلص، په خپل دیوان کي، د تَناسُخ اوحُلول هغه عرفاني نظریه سمه نه ده ګڼلې، چي پر بېلابېلو فکري او فلسفي مکتبو سربېره ، د ځینو اسلامي متصوفینو او عارفانو په آثاروکي هم بیان سوې ده . د ده په یوه غزله کي، د حلول د نظریې په ردولو سره ، توحید د یووالي مقام ته د رسېدو لار بلل سوې ده :

د توحید د عِلْم زده کړه له مرشده
مونده نشي نه له فقي، له اصولـه
اي مخلصه شک دي ټول له میانه واخله !
له مولا به یګانه شي بي حـلولـه

مخلص، په یوه بله غزله کي، دا مسأله انځوریي، چي د کایناتو ټول موجودات د « وحدت بحر» له موجو څخه پیداکیږي . دا څپي هیڅ تکراراو یو رنګي نه لري . د دې ناپایه او بې مثله بحر هره څپه د هستی او نیستی د بې شماره کاروانو په څېر ده؛ په یوه څپه کي عالمونه پیدا کیي؛ او په بله څپه کي یې یو مخ له منځه وړي . شاه او ګدا، لوی او کوچنی، زوړ او ځوان، سپین او تور ټول د د ې بې ساري او بېچګون بحر په وړاندي هیڅ توپیر نه لري :

کل عالَم په حق قـایم شه
هم د هر اشیـا وسد دئ
تمام رنګ د ده لــه موجه
دی له رنګه پاک صمد دئ
رنګ بدل په هر ساعت شي
ذات قرار ځای قعد دئ
نوی نوی موج ظـاهر که
تکرار نه لري بې عـد دئ

په هر موج  اشیاء موجود شي

که حیوان، نبات، اثمد دئ

موج ، اروا د ده بي حـده

گفت د ده تَناسُخ  رد دئ

د نور مالومات د پاره وگورئ : اتحاد او حلول،  مبدأ اومعاد، د « عالَم او د هغه ډولونه  » تر سرلیک لاندي د وحدت او کثرت عالَم، وحدت الوجود او وحدت الشهود .

لمنلیکونه

۱ عمید۱: ۷۳۱.

۲ نسفی، انسان الکامل ۴۱۷ .

**۲۸- توبه :**

د گونا(گناه) پیژندنه،  له گونا وو پښېماني او د عرفاني پیر په  لاربښوونه د سیر او سلوک پیل، هغه ماناوي دي، چي د تصوف او عرفان د نړی سالکان يي د «توبې»  له  عربي ټکي څخه اخلي۱ .

د اسلامي تصوف او عرفان پیاوړي انگرېز څېړونکي - پوهاند نیکلسن (۱۸۶۸ -  ۱۹۴۵م)  په خپل مشهور اثر  «د اسلام صوفیان» کي د اسلامي تصوفي نظریو پر بنسټ، د توبې په اړه داسي کښلي دي : «توبه الهي پیرزوینه ده، چي له خدایه  انسان ته عطأ کیږي؛ نه داچي له انسان څخه خدای ته . هجویري[ په ۴۶۵ هـ ق کي مړ؛ او د نامتو عرفاني اثر «کشف المحجوب» څښتن ]  وايي : توبه کوونکی د خدای دوست دئ؛ او د خدای دوست تل د خدای په باب فکر کیي .  په تفکر کي دا سمه نه ده، چي د گونا یادونه وسي؛ ځکه د گونا یادونه د خدای او فکرکوونکي تر منځ  پرده گڼله کیږي۲.»

لکه څنگه چي په مخکي یادونه وسوه،  له گونا او  هر ډول ناوړه کارو  څخه ډډه کول، د طریقت او سلوک لومړنی گام دئ . د ټولو عرفاني او تصوفي مشرانو په اند، سالک تر هغه مهاله د لوړوعرفاني مقامو پر لور، د هیڅ  پرمختگ  نسي کولای، چي له گونا او معصیت سره تل تر تله مخه  ښه ونه کړي .

زموږ موحد عارف ، علي محمد مخلص، هم د زیاتروعرفاني مخکښانو غوندي، توبه د عرفاني طریقت لومړنی مقام یا هغه مقام بولي، چي دپیغمبرانو په منځ کي د لوړ پیغمبر، حضرت  آدم (ع)، په برخه ۆ  .  د مخلص په یوه غزله کي،  په دې اړه داسي راغلي دي :

د توبې مقام اول دئ لوی تایب آدم مُرسل دئ

چي توبه یي شوه له غیره شه فلاح له خجا لته

دا منزل د شریعت دئ تایب پاک له معصیت دئ

د آدم صفي پر صف شه رهنمای شو ی له مضلته

په روښاني طریقت کي، توبې ته د جلا مقام په سترگه نه دي کتل سوي . په دې عرفاني لاړ کي، توبه د شریعت د مقام یو شرط یا یوه برخه  گڼلی سوي ده، چي هغه په خپله هم له اتو عرفاني مقامو څخه لومړنی مقام دئ .

دنور مالومات د پاره وګورئ :  تسلیم، توکل، ذکر او فکر، رضا، شکر، صبر، فقر، قناعت، شریعت، طریقت، حقیقت، معرفت، قربت، وصلت، وحدت او سکونت .

لمنلیکونه

۱ نیرومند محقق ۲۰ .

2 Nicholson 31.

پاته لري